This project is co-funded by the European Union Asylum, Migration and Integration Fund. Making management of migration flows more efficient across the European Union.

# د کډوال ګډون :2

# د ګډون لپاره اړین مهارتونه کوم دي؟

## مخینه

د کډوالو ګډون ته بیلابیل الفاظ کارول کیدی شي د مثال په توګه 'د تجربې له مخې متخصصین' یا 'د کارونکي ښکیلتیا'. پدې برخه کې واضح کیږي چې څنګه هغه خلک چې په یوه ځانګړې تجربه کې یې ژوند کړی، کولی شي هغو خدمتونو ته غوره شکل ورکړي چې د دوی ملاتړ کوي.

## ولې ګډون کوئ؟

تاسو د ګډون فعالیتونو له لارې کولی شئ خپلو مهارتونو ته وده ورکړئ او ښه پوه شئ چې خدمتونه څنګه کار کوي. تاسو ډیره پوهه لرئ چې د سازمانونو په اړه یې کډوالو ټولنو ته د ښه خدمت په موخه کارولی شئ. ستاسو پوهه او تجربه کولی شي د دوی د خدمتونو وړاندې کولو ته لا وده ورکړي.

تاسو د ګډون له لارې کولی شئ پر ځان باور زیات کړئ، د کډوالو خدمتونو د له نیژدې وګورئ او د خپلو ټولنو په استازیتوب خبرې وکړئ. همدارنګه تاسو هغه مهارتونه لکه اړیکې، اوریدل، عامه خبرې، لیکل، د رهبری مهارتونه او نور ډیر څه، تمرین کولی شئ.

ښایي تاسو له یوه داسې لامل سره مخ شئ چې د کډوالو ټولنو لپاره د شیانو د ښه کولو په اړه د لیوالتیا احساس کوئ یا ان نوي مهارتونه ترلاسه کړئ. ځیني سازمانونه ممکن له تاسو وغواړي چې د یو ځانګړي مهارت له امله چې تاسو یې لرئ یا شاید د دې لپاره چې دوی غواړي د کډوالو غږونه شامل کړي، ورسره یو ځای شئ.

## ګډون څنګه کار کوي؟

کیدای شي له تاسو وغوښتل شي چې د مهاجرت ګډونوال کېدو لپاره د غوښتنلیک پروسه بشپړه کړئ یا کیدای شي له تاسو ځیني مهارتونه وغوښتل شي. دا اړتیاوې د ډیری مسلکي رولونو لپاره معیار دی او ستاسو لپاره یوه لاره ده چې وښیي چې تاسو رول ترسره کولی شئ. د مثال په توګه، دوی ممکن له تاسو وغوړي:

- د یوې ټاکلي مودې او ګډون وختونو لپاره رول ترسره کړئ.
- له سازمان سره اړیکه وساتئ.
- د زده کړې لپاره پرانیستي اوسئ.
- ومني چې خلک بېلابېل کلتورونه او مذهبونه لري.
- ستاسو د اړیکو جزیات شریک کړئ.
- د مآخذ اړیکي جزیات چمتو کړئ. مآخذ کیدای شي ملګری، پخوانی همکار، یا بل څوک وي چې تاسو یې پیژني.
- په انګلستان کې د کډوال کیدو په اړه خپله د ژوند تجربه شریکه کړئ، خو دا اجباري نه ده. تاسو هیڅکله مکلف نه یاست چې هغه څه شریک کړئ چې تاسو یې په شریکولو سره آرام نه یاست.
- په انګلیسي ژبه د خبرو کولو یوه ځانګړې وړتیا ولرئ (تر یوې کچې پورې)، خو نور ځایونه ممکن تاسو ته شفاهي ژباړونکي چمتو کړي.
- DBS (د پولیسو چک) تصدیق ترلاسه کړئ.

سازمانونه به له تاسو سره په دې پړاوونو کې مرسته وکړي. تاسو به تر غوښتنلیک ورکولو مخکې د ټیم له غړو سره د خبرو کولو فرصت ولرئ او دوی کولی شي هرې پوښتنې ته چې تاسو يې لرئ، ځواب ووايي.

تاسو به د ګډون فرصت ته تر درخواست کولو وروسته د رول تشريح کولو لپاره د ګومارلو غونډه ولرئ او ښايي د رول په اړه روزنه ترلاسه کړئ. په ځينو ځايونو کې دوی تاسو ته د معلوماتي ټيکنالوژۍ تجهيزات او د کارولو په اړه روزنه درکوي.

په ياد ولرئ، تاسو به وکولی شئ چې د فعالیتونو اړوند هر ډول لګښتونو ادعا بېرته وکړئ لکه د سفر لګښتونه يا د معلوماتو لګښتونه، خو اړ به وئ چې د خپلو پيسو تر مصرف کولو مخکې چيک کړئ که پوښل شوي وي. همدارنګه ښايي تاسو ته اجره درکول شی چې کیدای شي مالي یا غیر مالي وي.

## تر ګډون کولو مخکې کوم ګامونه پورته کړئ؟

که رول په انګلستان کې د کډوال په توګه ستاسو د ژوند د تجربې پر اساس ستاسو د نظرونو ترلاسه کولو لپاره ډيزاين شوی وي، نو بيا د ګډون په هره پروژه کې برخه اخيستل بايد يوه مستقيمه پروسه وي.

په ياد ولرئ، مخکې تر دې چې د فرصت لپاره نوملیکنه وکړئ، تاسو د شته رولونو په اړه هر ډول پوښتنې پوښتلی شئ. د مثال په توګه فعالیتونه چيرته او کله ترسره کيږي، په څومره منظم ډول سره؟ ايا سفر ته مو اړ باسي؟ ستاسو او د ټولنې لپاره يې ګټې څه دي؟ د انګليسي ژبې کومې کچې ته اړتيا ده او ايا دوی شفاهي ژباړونکي چمتو کوي؟ ايا دوی د ماشوم پاملرنې لګښتونه پوښي؟

تاسو بايد دا هم په پام کې ونيسئ چې ايا تر نوملیکنې مخکې د رول تعهد ته وخت لرئ کنه.

## د ګډون ګټې څه دي؟

١. د اړيکو مهارتونو پياوړي کول:

- ګډون کولی شي ستاسو د انګليسي ژبې په ښه کولو کې مرسته وکړي چې نه يوازې دا چې له تاسو سره به د رول په وده کې مرسته وکړي بلکې ستاسو په ورځنيو فعالیتونو او د بېلابېلو کلتورونو د خلکو سره ستاسو په متقابلو کړنو کې هم مرسته کوي.
- ښايي تاسو د اورېدلو مهارتونو او عامه خبرو اترو په اړه روزنه ترلاسه کړئ.
- که څه هم، که د انګليسي ټولګيو په لټه کې ياست نو دلته يې موندلی شئ
  **<u>په يورکشاير او همبر وېبپاڼه کې د انګليسی زده کړئ</u>**

٢. په انګلستان کې د ژوند په اړه د خبرونو، لارښوونو او قواعدو په اړه خبرېدل:

- تاسو کولی شئ خپل ځايي کډوال سازمانونه وموميئ څو د خبرو اترو له شبکو سره يوځای شئ، د سازمانونو څخه د خبرونو او تازه معلوماتو ترلاسه کولو لپاره ګډون (سبسکرايب) وکړئ چې د کډوالو ادغام او د کډوالو ټولنو پورې اړوند موضوعات خپروي.

٣. له نورو کسانو چې د اجباري مهاجرت تجربه لري او د کډوالو ټولنو په استازيتوب خبرې کوي، زده کړه کول:

- تاسو کولی شئ د هغو سازمانونو څخه د سامان بکسونه او لارښودونه وګورئ کوم چې له کډوالو سره مرسته کوي څو په خونديز ډول د دوی انديښنې په پراخه کچه بيان کړي. لکه د **<u>کډوالو د هوساينې لپاره ګډه شورا (The Joint Council for the Welfare of Immigrants)</u>** او **<u>د نژاد د مساواتو پيغام په اغيزمنه توګه شريکولو پروژې معلوماتي پاڼې(CRÈME Project Info Sheets)</u>**. او **<u>OnRoad Media</u>**.

٤. د کډوالو په اړه یوه کیسه یا حقیقت شریکولو لپاره له رسنیو سره ښکیلېدل:
- تاسو کولی شئ په وړیا روزني کې برخه واخلئ او ومومئ چې څوک په رسنیو او مدافع وکالت کې د کډوالو لپاره کار کوي لکه **IMIX**، او **Refugee Action**

٥. د خپلې ټولنې او محلی سازمانونو ملاتړ.
- تاسو په ګډون کولو سره سازمانونه هڅوئ چې پوه شي چې ستاسو د کور پرېښودو ته اړ ایستل څنګه دي او دا کولی شي د هغو خلکو لپاره د دوی خدمتونو په ښه کولو کې مرسته وکړي چې له تاسو وروسته راځي.
- سازمانونه، د خیریه موسسو په ګډون د ټولنې د غړو پر ملاتړ تکیه کوي څو وکوالی شي خپل کار ترسره کړي.